# په ملاکنډ کښې دَ سفرنامې سفر

## Voyage of Pashto Travelogue in District Malakand

Dr. Mazhar Ahmad[1]
[2] Sana Gul

ABSTRACT

*Travelogue has come over a long a way and evolved into a distinct genre in its literary journey. Travelogue explores not only the geography and topography of a particular area but also gives a wealth of information about the culture, values and traditions of local population. Pashto language like its other local and global counterparts has travelogues that have enriched the treasure trove of its literature. Swat Nama of Khushal Khan written in verse is one such inaugural milestone in this expedition. Likewise Muhammad Nawaz Tahir is the first to sail his ship in the extensive waters of Pashto travelogue in Malakand. This paper explores the voyage of Pashto Travelogue (some published and certain unpublished) in Malakand in a terse but comprehensive manner. This surely will benefit even the least avid readers of Pashto literature.*

دَ نړۍ په بېلا بېلو ژبو کښې دَ سفرنامې اهميت مسّلم دے ۔ په تاريخي اعتبار سره سفرنامه ډېر اوږداو ورک تاريخ لري ۔ شايد چې دَ کله نه دَ بنيادمو ابادي په سېوا کېدو شوې ده نو دوي دَ مختلفو مقصدونو تر مخه دَ يو ځائې نه بل ځائي ته په سفر مجبوره شوي دي ۔ دَ يوې سيمې دَ خلقو دود دستور او دَ ژوند دَ تېرولو طريقې ئې په غور کتلې او بيا ئې نورو سيمو ته دغه رواجونه دَ ځان سره وړلې دي ۔ بيا چې انسان کله دَ ليک لوست طريقې زده کړې دي نو ځينې خلقو خپل دغه سفري ياداشتونه په ليک کښې محفوظ کړي او خپل دغه سفر ته ئې دوام بخښلے دے ۔

وړومبیسفرنامه چا او په کومه ژبه کښې ليکلې؟ دا جواب هېڅوک نۀ شي ورکولے خود مغربي محقيقينو په خيال د نړۍ ړومبے سفر نامه ليکونکے مشهور يوناني سيل گر هيروډوټس دے۔ خوولي د بعضي محقيقنو په خيال سره دا خبره هم حتمي نه ده۔ ځکه چې پروفيسر خالد محمود په خپل يو مضمون کښې د دې خبري نفي کوي او ميګستهنيز چې يونانے دے وړمبے سفرنامه نګار تسليمه وي[1]۔خو د يو بلې حوالې تر مخه چې کومه وړومبۍ سفرنامه په ګوتو راغلې ده هغه دَ نن نه تقريباً درې نيم زره کلونه وړاندې په مصر کښې ليکلې شوې ده ۔

---

[1] Assistant Professor Department of Pashto University of Malakand
[2] MPhil Scholar, Department of Pashto, Abdul Wali Khan University

جے اے کډن لیکي:

**Some of the earliest records of travels come from Egypt; for instance, an anonymousness 14th C. BC record known as the journeying of the Master of the captains of Egypt".[2]**

ژباړه:دَ سفر دَ ټولو نه پخوانے ریکارډ دَ مصر نه راغلے دے ۔ دَ مثال په توګه دَ څوارلسمې صدئ قبل مسیح یو نامعلومه لیکونکے لیک " دَ مصر دَ کپتانانو دَ استاذ سفر" په نامه پیژندے شي ۔

وروسته دَ چیني سیاحینو وکنګ ، هیون سانګ او فاهیان سفرنامې دَ هیروډوټس سفرنامه، دَ ابن بطوطه او البیروني سفرنامې دَ ذکر وړ دي ۔ تر څو چې دَ ملاکنډ دَ سیمې خبره راځي نو دَ دې سیمې وړومبۍ تحریري پیژندګلو هم دَ نړۍ د نورو ځایونو په شان دَ دغه سفرنامو نه کیږي،او زمونږ دَ لیکلي تاریخ بنسټ هم دغه سفرنامې دي ۔ چیني سیاحین که هر څو دلته دَ خپل مذهب بدهـ مت د زدکړې له پاره راغلي وو خو دَ دې سیمې دَ اوسېدونکو، اونو بوټو ، ځناورو، ابادو او نورو څیزونو یادونه ئې دَ قلم په ژبه د کاغذ سینې ته سپارلي دي، په کومو کښې چې مونږه دَ دې سیمې د زرګونه کالو پخوانے تصویر لیدے شو ۔ وروسته زیات اهم او دَ پښتو شعري ادب زبردست کتاب دَ خوشحال بابا سوات نامه ده کومه چې هغوي په کال ۱۰۸۵هـ کښې دَ خپل سیاسي سفر په مهال لیکلې وه ۔ [3]دَ خوشحال خان خټک بله سفرنامه هند کوهنامه ده کومه چې حبیب الله رفیع په ۲۰۰۱ء کښې چاپ کړې ده ۔

په پښتو ادب کښې چې تر دې وخته څومره منظومې او منثوري سفر نامې چاپ شوې دي، هغه که نیغ په نیغه په پښتو ژبه لیکلې شوې دي او که یا چا دَ بلې ژبې نه پښتو کښې ترجمه کړې دي ، تر دې ساعت دَ هغوي شمیره دَ څلویښتو نه زیاته ده ۔

که خارجي مسافرو دَدې سیمې لفظي تصویر دَ نړۍ نورو خلقو ته ښودلے دے نو دَدې ځائي خپلو خلقو هم دَ بهر دنیا سېلونه کړي دي او دَ هاغه ملکونو دَ خلقو بودوباش، تاریخ ، جغرافیه او دَ هغوي سره خپل تجربات ئې په قلم خوندي کړي ۔ په دغه لیکوالو کښې وړومبے نوم دَ پروفیسر محمد نواز طائر راځي ۔

## ناليدلے سوات:

خدائې بخښلے پروفیسر محمد نواز طائر دَ پښتو ادب لوئې او پیژندلے نوم دے ۔ دَ هغوي ټول لیکونه احاطه کول په دې مقاله کښې امکان نۀ لري خو دلته صرف دَ هاغه ادبي نثري او شعري اصنافو په نومونو اکتفا کولې شو، دَ کومو چې دَ ملاکنډ په سیمه خدائے بخښلے پروفیسر محمد نواز طائر بنسټګر ؤ ۔ بنسټ ګر په دې معنیٰ چې تر دې وخته پۀ لاس راغلي ثبتونه مونږ ته دا ښائي چې دَ افسانې ، ازاد نظم او سفرنامې شروع هغه دلته کړې ده ۔ [4]

دَ پروفېسر محمد نواز طائر دَ سفرنامې وړومبے کتاب (چې دَ هغۀ دَ چاپو کتابونو نه هم وړومبے کتاب دے) "دردیال نالېدلے سوات" دے ـ دا کتاب چې صرف په "نالېدلے سوات" شهرت لري، ماسټر خان ګل په منظور عام پريس قيصه خوانۍ پېښور کښې په ۱۹۶۵ء کښې چاپ کړے ؤ ـ دَ محترم طائر صېب دا سفرنامه لکه دَ قانته بېګم دَ مشهورې سفرنامې "زما سفرنامه"[5] دَ بېلو بېلو سفرونو روداد دے ـ دا دَ پنځه سفرونو مجموعه ده کومه چې دَ سوات دَ ګلورينې سيمې دَ جداجدا ځايونو دي ـ په دې کښې ځينې پېدل سفري هم دي ـ دَ طائر صېب خوږ نثر دَ سفرنامې خوند نور هم سېوا کړے دے ـ دَ سوات او خواشا دَ سيمو تاريخ، دَ دې ځائې دَ خلقو دَ استوګنې ، غم ښادۍ، مېلمه دوستۍ او دَ هغې انداز په داسې پېرايه کښې پېرلے شوے چې لوستونکے په دې مجبوروي چې په يوه مخه ئې اولولي او هم دا دَ خدائې بخښلي طائر کمال دے ـ دا کتاب تقريباً درې سوه صفحې لري په دې سيمه دَ سفرنامې ليکلو دا يو ښه او معياري شروعات وو ـ

## دَ حاتم طائي سفرنامه:

دا کتاب په اصل کښې په فارسي مثنوي ليکلے شوے ؤ ـ دَ هغې نه بيا په انګرېزۍ ژبه کښې "دي اېډونچر آف حاتم طائي" په نامه چاپ شو ـ پروفېسر محمد نواز طائر دَدې اهميت او افاديت په وجه دغه دلچسپ معلومات په پښتو نثر دَ "حاتم طائي سفرنامه" په عنوان اوژباړه له ـ کتاب ټولې ۲۷۷ صفحې لري ـ په ۱۹۸۹ء کښې دَ پښتو اکېډمۍ پېښور له اړخه چاپ شوے دے ـ پروفېسر محمد نواز طائر دَدې نه علاوه يوه بله سفر نامه هم ليکلې ده، چې لا تر دې دمه چاپ نۀ ده ـ

## دَ پېريانو لارې:

دَ سفرنامې دا وړوکے شان کتاب افتاب رشيد زړۀ سوي دَ خپلې شعري مجموعې "پلوشے" سره په يو جلد کښې چاپ کړے دے ـ دغه کتاب په اګست ۱۹۸۹ء کښې تر چاپه رسېدلے ؤ ـ دا دَ شمالي علاقه جاتو سفرنامه ده ـ نثر ئې رواني او اسانتياوي لري ـ خدائے بخښلے افتاب رشيد زړۀ سوے دَ څو فلمونو ليکونکے هم ؤ او دَ هغوي دَ دعوې مطابق دَ فرهاد شيرنۍ فلم قصه، ډائيلاګ او قوالي دۀ ليکلي وه او دهقان فلم ئې هم ليکلے ؤ ـ دغه دَ دوي نه چېه کړې شوي وو او په عدالت کښې ئې پرې مقدمې هم چلولي وې ـ[6] دَ دوي مضامين او غزلې نظمونه وخت په وخت په اخبارونو او رسالو کښې چاپ کېدل ـ دَ تاڼې کلي دے بچې دَ ژوند اخري شپې ورځې په کراچۍ کښې تېرې کړې وې ـ سرکاري وکيل ؤ په کال ۲۰۰۷ء کښې وفات شوے او هم دغلته خاورو ته سپارلے شوے دے ـ

## يخ يون:

دا دَ شهباز محمد هاغه سفرنامه ده کومه چې په ۲۰۰۸ء دَ جنورۍ په مياشت کښې دَ تاڼې ادبي ټولنې ملاکنډ له خوا چاپ شوې او خوره شوې ده ـ[7] دغه سفر دَ راقم او څلورو ملګرو علي ګوهر، عابد سلطان، فضل معبود او فضل غفار پېدل سفر ؤ کوم چې دَ تاڼې (خپل کلي) نه دَ کالام

، مټلتان، کچي ګني ګلېشئر په لاره تر چتراله پورې ؤ او بيا واپسي دَ دير په لار وه ـ په دې کتاب جميل يوسفزي او دَ پښتو ځانګړي سفر نامه نګار خدائی بخښلي طاهر افريدي ديباچې ليکلي دي ـ دَ ښاغلي طاهر افريدي دغه ليکلي ديباچه بيا هغوي پخپل کتاب ادبي پانې کښې هم چاپ کړې ده ـ [8] دَ کتاب کمپوزنګ نويد اقبال کړے دے ـ انتساب ئې راقم دَ خپل پلار نياز محمد استاذ په نامه کړے دے ـ کتاب ټول دولس بابونه لري ـ دَ ۱۴۵ صفحاتو په دې کتاب کښې دَدغه سفر اتۀ يادګاري تصويرونه هم شامل دي ـ دغه سفر دَ جولايۍ په مياشت ۱۹۹۲ء کښې شوے ؤ او کتاب هم په دغه ورځو کښې ليکلے شوے ؤ خو چاپ شوے بيا وروستو په ۲۰۰۸ء کښې دے ـ

### دَ کور نه تر کوريا:

دَ کور نه تر کوريا دَ اله ډهنډ ډهېرۍ دَ نومورې ليکوال عبدالناصر شېخکوري سفرنامه ده چې په اکتوبر ۲۰۱۸ء کښې دَ ياران قلم پښتو ادبي ټولنې اله ډهنډ ډهېرۍ له اړه خوره شوې ده ـ په مضبوطه ګته کښې بند دا کتاب يو سل اتۀ څلوېښت صفحې لري ـ دَ کتاب په اخره کښې پنځلس رنګين تصويرونه هم شامل کړې شوي دي ـ دغه رنګ ښاغلي شېخکوري دَ کوريا دَ لفظي تصوير سره حقيقي تصوير هم وړاندې کړے دے ـ

لکه څه رنګه چې دَ کتاب دَ نوم نه ښکاره ده ، دَ عبدالناصر شېخکوري دا سفر دَ کوريا ملک ته ؤ ـ دا دَدۀ پېشه ورانه سفر ؤ ـ ښاغلے ليکوال په دغه مهال په ټېکسلا عجايب ګهر کښې په اهمه عهده ؤ ـ ښاغلے ښه نثر نګار دے ـ دَدې نه وړاندې ئې دَ پښتو افسانو ټولګه "دَ غاړې هار" په نوم په جون ۲۰۰۷ء کښې چاپ وه او دَدې سفرنامې نه پس ئې دَ پښتو ناول " دَ انا جنګ" هم دَ مينانو لاسونو ته رسېدلے دے ـ دَ کور نه تر کوريا کښې ښاغلي سفرنامه نګار خپل ټول تجربات، دَ کوريا دَ خلقو مينه او فرض شناسي او پۀ هاغه ځاے کښې دَ ډېره پښتنو مينه بيان کړې ده ـ دا کتاب دَ دوي دَ نثري پوهې ښه بېلګه ده ـ دَ ثقيلو او ډېرو درنو ادبي الفاظو نه ئې ځان ژغورلے دے او دَ عام وګړي سره ئې هم دَ هغه په ژبه کښې خبرې کړې دي ـ په دې کتاب دَ پښتو ادب دؤو لوي نامورو، پروفېسر محمد نواز طائر او پروفېسر محمد اسلام ارماني ليکونه کړي دي ـ [9]

### دَ جمال جلوې:

دَ جمال جلوې دَ اماندرې دَ ښاغلي مياں فضل الرحمن شاهد دَ حج سفرنامه ده ـ دَ حج مبارک سفر دَ هر مسلمان دَ زړۀ ارمان وي ـ دَ شاهد صېب دغه ارمان الله تعالیٰ پوره کړے دے ـ حج له ډېر خلق ځي او دَ دغه مبارک سفر يادونه ټول عمر دَ مزغو په تخته او دَ زړۀ په سر ليک ساتي خو ليکوال دَ خپلو ياداشتونو سره سره دغه کاغذ ته هم سپاري او په دې ډول دغه مبارکو ياداشتونو ته ابديت بخښي ـ

دَ يو سلو او شپېته مخونو دا ښکلے کتاب دَ جمال جلوې دَ همېشه ادبي ټولنې اماندرې له خوا په ۲۰۱۹ء کښې خور شوے دے ـ په دې کتاب سيد صابر شاه صابر، حاجي نوشېروان عادل او زرنوش شهاب ليکل کړي دي ـ [10]

مياں فضل الرحمن شاهد دَ شاعرئ سره سره دَ نثر په ميدان کښې هم کار کوي ـ تر دې وخته دَ دوي درې کتابونه "ستوري په چينه کښې" (شعري مجموعه)، "شېر شاه سوري (تحقيق) او "دَ جمال جلوې" چاپ شوي دي ـ دَ جمال جلوې دَ دوي دَ خپل مذهب او خوږ نبيﷺ سره دَ مينې ګواهي ورکوي ـ

## ناچاپه سفرنامې:

دغه دَ ملاکنډ دَ سيمې چاپ سفرنامې وې چې دَ ډېرو پښتو مينانو لاسونو ته رسېدلې او هغوي لوستلې دي ـ دَدغې نه علاوه بعضې ليکوالو خو سفرنامې ليکلې دي خو لا تر اوسه چاپ شوي نه دي ـ دغه واړه سفرنامې دَ پښتو ادب قيمتي سرمايه ده ـ پکار دي چې دغه سفرنامې دَ چاپ په کالو ښائسته کړې شي ـ خدائې دې نۀ کړي چې دغه سرمايه هم دَ پښتو دَ بلها کتابونو په شان دَ خاورو او چينجو خوراک شي ـ ليکوالو له پکار دې چې په هر جوړ او هر څنګه وي خو چې خپل ليکلي کتابونه په خپل ژوندانه چاپوي ـ دَ ليکوال دَ اولاد نه دغه طمع ګرانه ده چې دَ هغوي شوق دې هم دَ خپلو مرحومينو په شان وي مثالونه ئې ډېر دي ـ هاغه کتابونه او ډائريانې بيا په کباړيانو خرڅې شي او ناقابل تلافي نقصان اوشي ـ

دَ ملاکنډ په سيمه زما دَ معلوماتو مطابق دَ ناچاپو سفرنامو څه لږ ډېر تفصيل دلته ليکلے شي چې څه نا څه معلومات ئې په دې مقاله کښې محفوظ پاتې شي ـ

### دَ هندوکش په سردرو کښې:

دا دَ خدائې بخښلي محمد نواز طائر ناچاپه سفرنامه ده ـ دَ کافرستان دا ناچاپه سفرنامه هغوي په کال ۱۹۶۴ء کښې ليکلې ده ـ [11]

### دَ کابل سفرنامه:

دا هم دَ محمد نواز طائر ليکلې سفرنامه ده ـ دا سفرنامه هغوي دَ خپل وفات نه څو کاله اګاهو هاغه وخت ليکلې وه کله چې افغانستان "کابل" ته په ملک احمد خان راجوړ کړې شوي سيمينار ته بللے شوے ؤ ـ

### وطن دَ تورو ښاپيرو:

دَ عبدالناصر شېخکوري دوېمه سفرنامه ده کومه چې هغه دَ سري لنکا دَ سفر په وخت ليکلې ده ـ دا کتاب شپږ. شلې صفحې (۱۲۰) لري ـ

**ما لېدلے دے رفتار دَ درویشانو:**

دا دَ شهباز محمددَ پنجاب سفرنامه ده ۔ په کال ۲۰۲۰ء کښې لیکلې شوې دا سفرنامه دوۀ سوه صفحې لري ۔ چاپ ته بېخې تیاره ده ۔

**دَ تانې نه تر ډهاکې(بنګله دېش):**

دَ ارشد کریم شلماني دَ بنګه دېش قلمي سفرنامه ده چې دَ بنګالي قوم او وطن په اړه پکښې ډېر معلومات محفوظ دي ۔

**دَ احرام نه تر حرمه:**

دا دَ پروفېسر ډاکټر علي خېل درياب دَ عمرې په مهال ليکلې سفرنامه ده ۔ "زړګيه سترګې لګوه دَ قدم لاره نۀ ده" په مصداق دَ حرمېنو په ادب کښې په دننه بحث مشتمله ده ۔

**دَ ګلبام نه تر باګرامه:**

دا هم دَ محترم ډاکټر علي خېل درياب دَ کابل افغانستان سفرنامه ده ۔ دَدوي په دغه ادبي سفر کښې دَ افغانستان په اړه کافي ادبي مواد موجود دي ۔ دغه سفر دوي په کال ۲۰۱۶ء کښې کړے دے ۔

**شګلوړې دشتې:**

شګلوړې دشتې دَ شباب رانیزي لیکلې سفرنامه ده کومه چې دَ عربستان دَ مسافرۍ په وخت هغۀ له قلمه ویستي ده ۔ دَ درې نیمو سوو صفحاتو دا سفرنامه پخپله لمن کښې دَ عربيانو متعلق معلومات خوندي ساتي، دَ کومو نه چې اکثريت خارجي دنيا ناخبره پاتې ده ۔

**حوالې**

[1] :https://adbimiras.com/hindustan-yunani-aur-chini-safarnamo-ki-raushni-mein-prof-khalid-mahmood/ خالد محمود، پرو فیسر، ہندوستان: یونانی اور چینی سفرناموں کی روشنی میں( ہیون سانگ کے خصوصی حوالے سے، ۱۰ستمبر۲۰۲۰ )، بتاریخ ۲۰۲۳۔۰۳۔۱۹، بوقت ۸:۵۷

[2] *Cudden, J.A. Dictionary of Literary Terms and Literary Theory, Penguin Books, England, 1994, P 995*

[3] خټک، خوشحال خان، سوات نامه (دَ همېش خليل دَ تحقيق سره) مرکزي خوشحال ادبي و ثقافتي جرګه اکوړه خټک ، اکتوبر ۱۹۸۶ء، مخ ۳۷

[4] شهباز محمد، دَ ملاکنډ افسانه ، اداره مطبوعات ملاکنډ، ۲۰۲۰ء، مخ ۱۶

[5] قانته بېګم، سيده، زما سفرنامه، يونيورسټي بک ايجنسي پېښور، ۱۹۷۶ء،

[6] زړۀ سوے، افتاب رشيد، پلوشے، پخپله، اګست ۱۹۸۹ء، مخونه ۱۸۰-۱۷۹

[7] شهباز محمد، يخ يون، تانه ادبي ټولنه ملاکنډ، جنوري ۲۰۰۸ء

[8] طاهر افريدے، ادبي پانې ، پښتو اکېډمي بلوچستان کوټه، ۲۰۱۹ء، مخونه ۹۰-۸۱

[9] شېخکورے، عبدالناصر، دَ کور نه تر کوريا، ياران قلم پښتو ادبي ټولنه اله ډهنډ ډهېرئ، اکتوبر ۲۰۱۸ء، مخونه ۱۳-۴

[10] شاهد، فضل الرحمن، دَ جمال جلوې، همېشه ادبي ټولنه امانډره ملاکنډ، ۲۰۱۹ء، مخونه ۲۲-۱

[11] پښتو ادب تانه ملاکنډ، خصوصي سلسله محمد نواز طائر، اپريل-ستمبر ۲۰۱۷ء، مخ ۳۴

# (References) حواله جات

[1] : https://adbimiras.com/hindustan-yunani-aur-chini-safarnamo-ki-raushni-mein-prof-khalid-mahmood/

Khalid mehmood, professor, Hindustan, yunani aw cheeni safarnamo ki roshni main, (haveng song kay khososi hawale say, 10 september, 2020) date 19-03-2023, Time: 08:57

[2] Cudden, J.A. Dictionary of Literary Terms and Literary Theory, Penguin Books, England, 1994, P 995

[3] Khatak, khushal khan, swat nama, (da hamesh Khalil sara maraca) markazi khushal adabi o saqafati jarga akorra khattak, October 1986, page 37

[4] Shahbaz Muhammad, da malakand afsana, Idara e matboaat malakand, 2020, page 16

[5] Qanita Begum, Syeda, zama safarnam, University book agency Peshawar, 1976

[6] Zrra sway, Aftaf Rasheed, Palwashe, Pakhpala, August 1989, Pages 179,180

[7] Shahbaz Muhammad, Yakh Yun, Thana adabi tolana, January 2008.

[8] Tahir Afriday, adabi pannra, pukhto Academy balochistan Quitta, 2019, pages 81-90

[9] Shekhkoray, Abdul Nasir, Da kor na tar Koria, Yaran e qalam Pukhto Adabi Tolana Aladhand Dherai, October 2018, Pages 4-13

[10] Shahid, Fazal Ur Rahman, Da jamal Jalwe, Hamesha Adabi Tolana Amandara Malakand, 2019, Pages 1-22

[11] Pukhto Adab Thana Malakand, Khusosi Silsila Muhammad Nawaz Tair, April-September 2017, Page 34